لوړو زده کړو وزارت

بُست پوهنتون

علمي معاونیت

اقتصاد پوهنځی

مالي او بانکي ډیپارټمنت

# د مالي او بانکي ډیپارټمنټ کتلوګ

کال: ۱۴۰۱هـ.ل

لړلیک

عنوانونه صفحه


د مالی او بانکي ډیپارټمنټ لنډه تاریخچه: 2
د مالي او بانکي ډیپارټمنټ لیرلید او ماموریت: 2
موخي: (Goals) : 2
د مالي او بانکي ډیپارتمنت د زیربنایې امکاناتو په اړه لنډ معلومات: 2
د مالي او بانکي ډیپارټمنټ د علمی پروګرامونو پیژندنه: 3
د مالي او بانکي ډیپارتمنت د تحصیلي نظام، استادانو او کارکونکو په اړه معلومات: 3
د مالي او بانکي ډیپارټمنټ کریکولم: 4
د مالي او بانکي د فارغ التحصیل روښانه تعریف: 8

## د مالي او بانکي ډیپارټمنټ لنډه تاریخچه:

د اقتصــاد پوهنځی مالي او بانکي ډیپارټمنټ یو له مهمو ډیپارټمنټونو څخه دی چې د اقتصــاد پوهنځی په چوکاټ کې په ۱۳۹۱ کال کې تاسـیس ســوې ده او فعالیت یې په ( ۱۳۹۹ ) کال کې پیل کړی دی چې اوس مهال په تشکیل کې پنځه تنه تکړه او با تجربه استادان لري چې یو یې ماسټر او پنځه یې لیسانس دي. اوس مهال په مالي او بانکي ډیپارټمنټ کې ۳۹ محصلین په زده کړو بوخت دي.

## د مالي او بانکي ډیپارټمنټ لیرلید او ماموریت:

**لیرلید(Vision)**

د بُست پوهنتون د اقتصاد پوهنځی مالي او بانکي څانګه به د پوهنتون او هیواد په کچه په مالي او بانکي علومو کې یو معیاري، مسلکي او مخکښ ډیپارټمنټ وي.

**ماموریت(Mission)**

د اقتصاد پوهنځی مالي او بانکي ډیپارټمنټ به د هر اړخیزه امکاناتو په چمتو کولو سره مسلکي کادرونه روزي او کره پوهنیزي څیړني به رامنځته کوي، تر څو هلمند او هیواد ته غوره خدمت وکړو.

**موخې: (Goals) :**

1. د راتلونکو پنځو کلونو په موده کې د ډیپارټمنټ اداره عصري او معیاري جوړول؛
2. د پنځوس سلنه ماسټر او شل سلنه دوکتور استادانو درلودل؛
3. د کیفیت د لوړاوي په برخه کې د ډیپارټمنټ اکاډمیک اعتبار اخیستل؛
4. د علمي همکاریو په موخه د هیواد د دریو پوهنتونونو سره د ډیپارټمنټ وصل کول؛
5. د اوس په پرتله د محصلینو د کمیت کچه پنځه برابره لوړول؛
6. محصلینو ته د عملي کارونو، علمي سیرونو او نورو اړینو فرصتونو چمتو کول؛
7. د اوس په پرتله د علمي مقالو او علمي څیړنو درې برابره زیاتول؛
8. د اړتیا مطابق تخنیکي او مسلکي کارمندان استخدامول؛
9. د سیمنارونو، ورکشاپونو او ټرېنینګونو په ذریعه د ډیپارټمنټ د استادانو، کارمندانو او محصلینو ظرفیتونه لوړول؛

## د مالي او بانکي ډيپارټمنټ د زيربنايي امکاناتو په اړه لنډ معلومات:

مالي او بانکي څانګه  د کافي باتجربه ماسټر او ليسانس استادانو لرونکې ده چې عصري ټکنالوجۍ او منظمو تدريسي وسايلو پر مټ تدريس کوي. مالي او بانکي څانګه  ۵ مجهز او په اړينو توکو او وسايلو سنبال درسي ټولګي لري چې په ټولو ټولګيو کې يې د ګرمې او يخې هوا سيستم، مناسبې چوکۍ، تدريسي بورډونه، پروجيکټور او LED شتون لري. فعال او مجهز ډيپارټمنټ، تدريسي مديريت لري.. ويټرين، د اوبو رســـولو شـــبکه، بريښـــنا، پارکينګ، کتابتون، کمپيوټر لب، انټرنيټ کيفي، خدماتي کارکران، کانتين او نور سـهولتونه او سـرچينې چې د پوهنتون اړونده ايجاد سـوي د مالي او بانکي څانګې محصـلين او اسـتادان په اصـولي ډول اسـتفاده ورڅخه کولای سي.

## د مالي او بانکي ډيپارټمنټ د علمی پروګرامونو پيژندنه:

د مالي او بانکي ډيپارټمنټ تدريسي بهير د مسلکي او تجربه لرونکو استادانو له لوري په عملي او نظري ډول سره مخې ته وړل کيږي، ددي ترڅنګ ياده څانګه خپلو برحاله او فارغه محصلانو ته په بيلابيلو وختونو بيلابيل د ظرفيت لوړوني لنډمهاله پروګرامونه په لاره اچوي او بيلابيلو کاروبارونو ته د ليدني لپاره محصلين بيول کيږي.

## د مالي او بانکي ډيپارتمنت د تحصيلي نظام، استادانو او کارکونکو په اړه معلومات:

د يادي څانګې ټولي اداري او تدريسي چاري د ډيپارټمنټ د آمر په شمول د 5 تنو دايمي او قراردادي استادانو په مټ د لوړو زده کړو د قانون، کريډيټ سيستم او نصاب او کريکولم د لوايحو او طرزالعملونو په رڼا کې مخې ته وړل کيږي. په نوموړي څانګه کې تحصيلي کال دوه سمسټره دی، چې هر سمسټر پرته له ازمويني څخه شپاړلس (16) درسي اونۍ او يو درسي ساعت پنځوس (50) دقيقي دي.

د لوړو زده کړو د قانون مطابق د ليسانس دوره په اوسط ډول څلور کاله، چې د کريډيټونو شمير يې لږ تر لږه (136) کريډيټه او لوړ حد يې د رشتې د تحصيلي دوري په اوږديدو پوري اړه لري او په سمسټر کې تر (21) کريډيټه نه زياتيږي. د ليسانس دوري مضمونونه پر (بنسټيزو، تخصصي، اختياري او پوهنتون شمول) مضمونونو باندي ويشل کيږي. بنسټيز مضمونونه بايد حد اکثر 30 سلنه، تخصصي مضمونونه 50 سلنه، اختياري مضمونونه د پوهنتون شموله مضمونونو په ګډون 12 سلنه، مونوګراف، سمينار، د ډيپلون د بشپړيدو پروژه 8 سلنه د ليسانس دوري د مضمونونو منځپانګه جوړوي او نمري يې د 100 نمرو څخه محاسبه کيږي.

## د مالي او بانکي ډيپارټمنټ کريکولم:

| لومړی سمسټر | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|
| شماره | مضامين | کود | کريډيټونه | ډيپارټمنټ | ساعتونه | نوع مضمون |
| 1 | سلامي ثقاقت (د اسلام اعتقادي نظام) | SL.IC.0171 | 2 | اسلامي ثقافت | 2 | عمومي |
| 2 | اسلامی ثقافت (تلاوت او تجويد) | SL.IC.0172 | 1 | اسلامی ثقافت | 2 | عمومي |
| 3 | د لوی اقتصاد اساسات I | EC110 | 3 | ملي اقتصاد | 3 | اساسي |
| 4 | د کوچنی اقتصاد اساسات I | EC120 | 3 | ملي اقتصاد | 3 | اساسي |
| 5 | مالي محاسبه I | EC130 | 2 | اداره و تشبثات | 2 | اساسي |
| 6 | رياضي I | EC140 | 2 | احصائيه و ايکونومتري | 2 | اساسي |
| 7 | انګليسيI | EC150 | 2 | ادبيات | 2 | عمومي |
| 8 | احصائيه I | EC160 | 2 | احصائيه و ايکونومتري | 2 | اساسي |
| 9 | اقتصادي سنجشونه | EC170 | 2 | احصائيه و ايکونومتري | 2 | اساسي |
| | **د کريډيټونو مجموعه** | | **19** | | **20** | |

| دويم سمسټر | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|
| شماره | مضامين | کود | کريډيټونه | ډيپارټمنټ | ساعتونه | نوع مضمون |
| 1 | اسلامي ثقافت (د اسلام عبادتي نظام) | SL.IC.0273 | 2 | اسلامي ثقافت | 2 | عمومي |
| 2 | اسلامی ثقافت (سيرت) | SL.IC.0274 | 2 | اسلامی ثقافت | 2 | عمومي |
| 3 | د لوی اقتصاد اساسات II | EC210 | 3 | ملي اقتصاد | 3 | اساسي |
| 4 | د کوچنی اقتصاد اساسات II | EC220 | 3 | ملي اقتصاد | 3 | اساسي |
| 5 | مالي محاسبه II | EC230 | 2 | اداره و تشبثات | 2 | اساسي |
| 6 | رياضي II | EC240 | 2 | احصائيه و ايکونومتري | 2 | اساسي |

| | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|
| 7 | انګلیسي II | EC250 | 1 | ادبیات | 1 | عمومي |
| 8 | احصائیه II | EC260 | 2 | احصائیه و ایکونومتري | 2 | اساسي |
| 9 | مالي چارو اساسات | EC270 | 2 | مالي و بانکي | 2 | اساسي |
| 10 | مبادي حقوق | EC280 | 2 | مالي و بانکي | 2 | اساسي |
| | **د کریډیټونو مجموعه** | | **21** | | **21** | |

| دریم سمستر | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|
| شماره | مضامین | کود | کریډیټونه | ډیپارټمنټ | ساعتونه | مضمون نوعیت |
| **1** | **اسلامي ثقافت(د اسلام اخلاقي نظام)** | **SL.IC.0375** | **2** | **اسلامي ثقافت** | **2** | **عمومي** |
| 2 | **اسلامي ثقافت(د اسلام ټولنیز نظام)** | **SL.IC.0376** | **2** | **اسلامي ثقافت** | **2** | **عمومي** |
| 3 | **کوچنی اقتصاد** | **EC310** | **3** | **ملي اقتصاد** | **3** | **اساسي** |
| **4** | **مصارفو سنجش** | **EC320** | **3** | **اداره و تشبثات** | **3** | **تخصصي** |
| 5 | **تجارتی انګلیسي** | **EC330** | **2** | **اداره و تشبثات** | **2** | **تخصصي** |
| **6** | **احتمالات I** | **EC340** | **3** | **احصائیه و ایکونومتري** | **3** | **عمومي** |
| 7 | **پولي اقتصاد** | **EC350** | **3** | **مالي و بانکي** | **3** | **اساسي** |
| **8** | **اقتصادي نظریاتو تاریخ** | **EC360** | **2** | **ملي اقتصاد** | **2** | **تخصصي** |
| | د کریډیټونو مجموعه | | 20 | | 20 | |

| څلورم سمستر | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|
| شماره | مضامین | کود | کریډیټونه | ډیپارټمنټ | ساعتونه | مضمون نوعیت |
| 1 | اسلامي ثقافت (فکري پوهنه) | SL.IC.0477 | 2 | اسلامي ثقافت | 2 | عمومي |
| 2 | اسلامي ثقافت (ادیان او مذاهب) | SL.IC.0478 | 1 | اسلامي ثقافت | 1 | عمومي |
| 3 | لوی اقتصاد | EC410 | 3 | ملي اقتصاد | 3 | اساسي |

| | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|
| 4 | تمويل | EC420 | 2 | اداره و تشبثات | 2 | تخصصي |
| 5 | احتمالات II | EC430 | 2 | احصائيه و ايكونومتري | 2 | اساسي |
| 6 | مصارفو سنجش | EC440 | 2 | اداره و تشبثات | 2 | تخصصي |
| 7 | تجارتي انګليسي | EC450 | 1 | ادبيات | 1 | تخصصي |
| 8 | مديريت اساسات | EC460 | 2 | اداره و تشبثات | 2 | تخصصي |
| 9 | پانګه اچونه | EC470 | 2 | اداره و تشبثات | 2 | تخصصي |
| 10 | اقتصادي حقوق | EC480 | 2 | مالي و بانكي | 2 | اساسي |
| کريډيټونو مجموعه | | | 19 | | 19 | |

| پنځم سمستر | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| شماره | مضامين | كود | كريډيټونه | ساعتونه | مضمون نوعيت |
| **1** | **نړيوال اقتصاد I** | **EC541** | **3** | **3** | **تخصصي** |
| **2** | **عامه بودجه (تيوري)** | **EC542** | **2** | **2** | **تخصصي** |
| **3** | **پراختياي تيوري** | **EC543** | **3** | **3** | **تخصصي** |
| **4** | **چاپېريال اقتصاد** | **EC544** | **3** | **3** | **تخصصي** |
| **5** | **عامه اقتصاد** | **EC545** | **3** | **3** | **تخصصي** |
| **6** | **بيمه** | **EC546** | **3** | **3** | **تخصصي** |
| **7** | **اسلامي ثقافت (د اسلام سياسي نظام)** | **SL.IC.0579** | **2** | **2** | **عمومي** |
| **8** | **اسلامي ثقافت (د اسلام اداري نظام)** | **SL.IC.0580** | **2** | **2** | **عمومي** |
| **کريډيټونو مجموعه** | | | **21** | **21** | |

| شپږم سمستر | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| شماره | مضامين | كود | كريډيټونه | ساعتونه | مضمون نوعيت |

| | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| 1 | نړیوال اقتصاد | EC641 | 3 | 3 | تخصصي |
| 2 | منطقوي اقتصاد | EC642 | 3 | 3 | تخصصي |
| 3 | بودجوي سیاست | EC643 | 3 | 3 | تخصصي |
| 4 | عامه اقتصاد | EC614 | 2 | 3 | تخصصي |
| 5 | دولتي محاسبه | EC615 | 3 | 2 | تخصصي |
| 6 | مالي او پولي بازارونه | EC646 | 3 | 3 | تخصصي |
| 7 | ترېنینګ (عملی کار) | EC648 | 2 | 2 | تخصصي |
| 8 | اسلامي ثقافت (د اسلام اقتصادي نظام) | SL.IC.0681 | 2 | 2 | ټول شموله |
| | کریډیټونو مجموعه | | 21 | 21 | |

| اووم سمستر | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| شماره | مضامین | کود | کریډیټونه | ساعتونه | مضمون نوعیت |
| 1 | بانکداري | EC711 | 3 | 3 | تخصصي |
| 2 | عمومي اقتصادي سیاستونه | EC741 | 3 | 3 | تخصصي |
| 3 | د مالي خطراتو مدیریت | EC742 | 3 | 3 | تخصصي |
| 4 | مالي سیاست | EC743 | 3 | 3 | تخصصي |
| 5 | سیمینار (د څېړنې میتودولوژي) | EC744 | 3 | 3 | تخصصي |
| 6 | کمپیوټر د احصایي لپاره | EC745 | 2 | 2 | اساسي |
| 7 | اسلامي ثقافت(قرآن او معاصر علوم) | SL.IC.0782 | 2 | 2 | ټول شموله |
| 8 | انفارماتیک/ بررسي او کنترول | EC617 | 2 | 2 | اختیاري |
| | کریډیټونو مجموعه | | 21 | 21 | |

| اتم سمستر | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| شماره | مضامین | کود | کریډیټونه | ساعتونه | مضمون نوعیت |
| 1 | اسلامي اقتصاد | EC841 | 3 | 3 | تخصصي |
| 2 | پولي سیاست | EC842 | 3 | 3 | تخصصي |
| 3 | د دولت پورونه | EC843 | 3 | 3 | تخصصي |
| 4 | سیمینار | EC844 | 4 | 4 | تخصصي |
| 5 | مونوګراف | EC845 | 4 | 4 | تخصصي |
| 6 | اسلامي ثقافت (اسلامي تمدن) | SL.IC.0883 | 2 | 2 | ټول شموله |
| **کریډیټونو مجموعه** | | | **19** | **19** | |

## د مالي او بانکي د فارغ التحصیل روښانه تعریف:

د مالي او بانکي ځانګي فارغین په دې توانیږي چې:

1. د پانګووني، مالي چارو، بانکدارۍ، صنعت، محاسبې، بشري سرچینو، اقتصادي چارو او نورو دې ته ورته برخو کې په مسلکي ډول دندې اجرا کړي او خپلو مهارتونو ته پراختیا ورکړي.
2. د کمپنیو او شخصي او دولتي کاروبارونو د تمویل، مالي مدیریت، مالي تفتیش، مالي پراختیا او ودې لپاره منظمه پلان جوړونه او عملیاتي چارې تر سره کړي.
3. د عصري اسلامي او پرمختللي بانکدارۍ په برخه کې د خپلو تر لاسه کړیو مهارتونو څخه استفاده وکړي او په دې برخه کې پانګوونه وکولای سي.
4. په خپله برخه کې په مسلکي ډول د هیواد له د مالي پراختیا او بانکي سیستم د پرمختیا او پراختیا سره مرسته وکړلای سي.
5. په خپل مسلک کې د ماسټرۍ او دوکتورا پروګرامونه تعقیب کړي او خپل مسلکي ظرفیت لا زیات کړي؛
6. د خپلو مهارتونو او ظرفیتونو په کارولو سره د مالي سهولتونو او بانکي چوپړتیاوو په برخه کې کاروبارونه رامنځته کړي، شراکت وکړلای سي او په دې برخه کې په پانګوونه وپوهیږي
7. د مالي چارو او بانکي مسایلو په برخه کې کره علمي څیړني وکړلای سي او نتایج یې د خصوصي سکتور، دولت او پانګووالو سره شریک کړي.

8. د اقتصاد پوهنځی د مالي او بانکي  فارغ التحصیل اسناد د هیواد او نړی په ګوټ ګوټ کي د دولت او خصوصي سکتور د قبول او تائید وړ دي. فارغین کولای سي په همدې اسنادو باندي د ماسټری پروګرامونو ته ځان کاندید کړي، دنده تر لاسه کړي او یا بل هر ځای او هره مرجع چې د لیسانس تحصیلي اسناد غواړي، فارغ التحصیل د دې اسنادو قانوني او حقوقي مادي او معنوي امتیاز تر لاسه کولای سي.

پورته کتلوګ د مالي او بانکي ډیپارټمنت په (۱۰) نمبر غونډه کي په ( ۱۴۰۱/۱۰/۱۲) نیټه تائید سو.